**AFGHAN GERMAN ONLINE**
http://www.afghan-german.com
http://www.afghan-german.de

افغان جرمن آنلاین
مسؤولیت محتوی ، استعمال کلمات و جملات درین نوشته بدوش نویسندۀ مطلب میباشد

حفیظ الله خالد

تاریخ : 31 مارچ 2019

# ډاکټر او انجینر مو وژني

کله ډاکـټـر کـله افـسـر کـله عـســکـر مـو وژني
پردی تـوپـک دی هـره ورځ د سرې سرمووژني

څوک چې ولس لپاره بند، پُل، او سړک جوړوي
په بی رحمۍ هغه مانـدېس او انجینر مو وژني

روغتون ښوونځی څه چې جومات هم دلته امن ندی
د خـدای په کور کی مولوي د پاک ممبر مو وژني

ته خو رحیم، کریم ، غفور او مهربان یی خدایــه
ستا پـــه سپیـــڅلی نـــوم، په الله اکـبر مو وژني

دوی دی ته نه ګوري هرڅوک به خویندی میندی لري
تـوپـک راواخلي په آسانـــه د زړه ســرمــو وژني

خالده دوعا وکړه چې ګران وطن کی سوله راشي
یـــو مـو قـاتـل دی کله لـر کله په بــر مـو وژني

ح خالد / ویانا

30. 3. 2019





افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ
maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ